# ځوک چې اذان واوري او بیا ووایي: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ». «اې د دې بشپړې بلنې او د دې ودریدونکي لمونځ (مالکه)؛ محمد - صلی الله علیه وسلم - ته وسیله او فضیلت ورکړه، او هغه ستایل شوي مقام ته یې ولېږه چې تا یې ورسره ژمنه کړې ده. (چا چې د اذان پسې دا دعا وویله نو ) هغه د قیامت په ورځ زما د شفاعت مستحق وګرځېده

له جابر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ځوک چې اذان واوري او بیا ووایي: اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ». «اې د دې بشپړې بلنې او د دې ودریدونکي لمونځ (مالکه)؛ محمد - صلی الله علیه وسلم - ته وسیله او فضیلت ورکړه، او هغه ستایل شوي مقام ته یې ولېږه چې تا یې ورسره ژمنه کړې ده. (چا چې د اذان پسې دا دعا وویله نو ) هغه د قیامت په ورځ زما د شفاعت مستحق وګرځېده».

[صحيح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې اذان کوونکی له اذان څخه فارغ شي او اورېدونکی دا دعا ووایي: (اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ)، اې د دې بلنې ربه! دا د اذان هغه الفاظ دي چې د الله تعالی عبادت او لمانځه ته پرې بلنه ورکول کیږي، (التَّامَّةِ) یعنې بشپړې بلنې چې د توحید او رسالت بلنه ده، (وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ) او اې د هغه لمونځ ربه چې تل تر تله به ادا کېږي، (آتِ) ورکړه، (مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ) محمد صلی الله علیه وسلم ته په جنت کې هغه لوړ مقام او منزلت ورکړه چې له هغه پرته بل چاته نه ښایي، (وَالفَضِيلَةَ) او هغه رتبه چې د مخلوقاتو له رتبې څخه ښه او غوره ده (وَابْعَثْهُ) او ورکړه (مَقَامًا مَحْمُودًا) هغه ستایل شوې رتبه چې استوګن یې ستایل کېږي، کومه چې د قیامت په ورځ لوی شفاعت دی (چې دی به یې کوي)، (الَّذِي وَعَدْتَهُ) هغه چې تا یې ورسره په خپله دې وینا کې ژمنه کړې ده چې: {عسى أن يبعثك ربك مقامًا محمودًا} لرې نه ده چې ستا رب به تا د ستاینې وړ مقام خاوند کړي. تر څو دا مقام د هغه صلی الله علیه وسلم شي. نو ځوک چې دا دعا ووايي د قیامت په ورځ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شفاعت مستحق وي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee